ډاکترعبدالرحمن زمانی ۱۸ اگست ۲۰۱۷

# دغازي امان الله خان لخوا د خلافت د مقام د وړاندیز نه منل

پدې وروستيو کې د افغانستان د خپلواکۍ پر اتل ستر غازي امان الله خان د کفر او بې دینۍ د فتوا بیا تازه کول او هغه ته سپکې سپورې ویل یوځل بیا وښوده چې د افغانستان د خپلواکۍ، پرمختګ او ټولنیز عدالت دښمنان نن هم د هغه د شخصيت له ترورہ لاس نه اخلي او د هغه د وفات نه څه باندې ۵۷ کلونه وروسته هم هغه د خپلو سترګو اغزي ګڼي، او د هغه څخه غچ اخیستلو ته دوام ورکوي .

زه نه غواړم چې دغازي امان الله خان د شخصيت په مختلفو ابعادو او دهغه د شخصیت د ترور په مختلفو انګیزو او ادرسونو څه ولیکم ، خو غواړم د افغانستان د معاصر تاریخ مینه والو ته د تاریخي اسنادو او شواهدو پر بنسټ یو څه داسې لنډ معلومات وړاندې کړم چې نه یواځې په هیواد کې دننه، بلکې د نړۍ په اسلامي هیوادو کې د هغه دینداری، عظمت او لوړاعتبار ته د مخورو مذهبي عالمانو، رښتینو روحانیونو، او د مشهورو اسلامي ټولنو د مشرانو د ژور احترام او ارادت ځرګندونه کوي .

## د خلافت مقام ته د کاندید او اسلامي نړۍ د خلیفه د لقب وړاندیز

غازی امان الله خان نه یواځې داچې د انګریزانو سره په جګړه کې د بریالیتوب نه وروسته دیوه داسې اتل په توګه چې د انګریزي زبرځواک لکۍ یې ورتوله کړې وه، شهرت ته ورسید، بلکې د انګریزانو په مقابل کې د خپلو نشنلستی او پان اسلامیستی پالیسیو او اقداماتو له امله د اسلامي نړۍ د ستاینې او خاص احترام وړ هم وګرځید.

هغه په ځانګړې توګه د عثماني خلافت تر ړنګیدو وروسته هغه وکړه تر څو د هندوستان او ترکستان د مسلمانانو زړونه نور هم لاس ته راوړي ، او د خلکو د ملاتړ په ترلاسه کولو سره یې نه یواځې په افغانستان، بلکې د عثماني خلافت د سقوط نه وروسته په بریتانوي هند او منځنۍ ایشیا کې د خلافت مقام ته د کاندید په توګه وړاندیز وشو(۱). د هغو کسانو په ډله کې چې نومونه یې د اسلام د خلیفه په توګه یادیدل، پر غازي امان الله خان سربیره دوه نور کسان د مصر پاچا شاه فواد او د مکې شریف حسین وو.

په کابل کې د هغه وخت د هندوستان د مؤقت جلاوطنه حکومت صدراعظم مولوی برکت الله په وینا، د خلافت مقام ته د افغانستان د پاچا امان الله خان او د مصر د شاه فواد تاکل کیدل د شریف حسین د موضوع په شان د خندونو سره نه مخامخ کیدله (۲). انور پاشا، چې غازي امان الله خان ورسره مرسته کوله، هم د دغه شان فکر ملاتړ کوو. د مسکو سره په تماس کې هندي انقلابیونو هم د غازي امان الله خان نوماندي تائیدوله . د خلافت دا موضوع دومره مخکې لاړه چې د هندوستان په ځینو جوماتونو کې خطبه هم د «امیرالمؤمنین امیر امان الله غازی» په نوم لوستل کیده. دغه مسئلې انګریزان دومره ویرولي وو چې د ځینو لیکوالو په وینا د اماني دولت په رسمیت پیژندلو ته اړ شول (۳) .

د ۱۲۹۹ میلادي کال د وري د میاشتې په ۲۷مه نیټه کله چې محمود طرزي او د افغانستان د صلحې د هیئت غړو د منصوری (میسوري) په جامع جوماتت کې د جمعې لمونځ ادا کوو، نو یو شمیر خلک راتول او د جومات امام په خپله خطبه کې غازي امان الله خان ته دعا وکړه او وروسته بیا د منصورۍ خلکو تصمیم ونیوو چې د «امانیه» په نوم یو جومات جوړ کړي او د تهداب تیږه یې د افغانستان خارجه وزیر، محمود طرزی کیږدي (۴).

علامه اقبال لاهوری خپل د " پیام مشرق" کتاب، چې د آلماني شاعر ګویته د دیوان په ځواب کې لیکل شوی وو، د افغانستان د خپلواک دولت مشر اعلیحضرت امان الله خان حضور ته وړاندې کړ. د فارسي ژبې یوه بل شاعر محمد حسن وحید هم چې په وحید دستګیری مشهور ؤ ، او د ایران یومشهور شاعر او ویناوال وو، په «چکامهٔ اتحاد اسلامي» کې غازي امان الله خان وستایه .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د بریتانوي هند د آرشیف دمحرمانه اسـنادو څخه څرګندیږي چي د انګریزانو حکومت په ویره کې وو چي ښـائي امیر امان الله خان د افغانستان، پارس، بخارا او ترکستان د مسلمانو دولتونو د یوه فدراسیون د جوړیدو  او د هغې د سلطان یا حتی خلیفه  کیدو  هیله ولري . بریتانیا په ۱۹۲۰  کال کې ډیره هڅه وکړه چي ددې کار مخه ونیسـي، ځکه چي په دغه مقام د غازي امان الله خان  په ټاکل کیدلو سره هغه د هندوستان د مسلمانانو په منځ  کې د اتل او قهرمان په توګه پیژندل کیدو . (۵)

په افغانستان کې دننه هم صدراعظم سردار عبدالقدوس خان (اعتمادالدوله) او یو شمیر نور کسـان د دغه نظریې ټینګ ملاتړ کوو، چي غازي امان الله خان د مسلمانانو د خلیفه په توګه وټاکل شي .هغه په هماغه لومړي سر کې دیوه لیک په ترڅ کې دا موضوع د هنري دابس سره شریکه کړي وه . د مې په میاشت کې دابس د میسوري څخه په یوه  ټلګرام  کې ولیکل چي محمود طرزی د خلیفه په توګه د غازي امان الله خان د پیژندل کیدو د لارې د هوارولو څرګند پلویتوب کوي .

د خلافت مقام ته د افغانستان د پاچا د وړاندیز موضوع په ۱۹۲۰ م کال کې د باکو په کنګرې کې هم وڅیړل شوه ، او د یوه رپوټ له مخې پدې کنفرانس کې  سـلطنت او خلافت سـره جلا او د افغانسـتان امیر ته د خلافت د مقام وړاندیز وشو.(۶)

د ۱۹۲۰ کال د نومبر په میاشت کې جمال پاشا، د ترکیې د یووالي او پرمختګ د کمیټې یو  غړې، د یوه خاص ماموریت دپاره چي د خلافت مقام ته د غازي امان الله خان د کاندیدولو له لارې د افغانستان پلازمینه د پان اسلامیستی فعالیتونو په مرکز بدل کړي، کابل ته ورسید، او دې مفکورې د کابل د سترو روحانیونو ملاتړ هم ترلاسه  کړ  .  د هندوستان په شمال غربی ایالت کې د انګریزانو د جاسوسی او اطلاعاتو دفتر په نږدې وخت کې د هغې خصوصي کتنې په هکله خبر ورکړ چي دحضرت شمس المشایخ فضل محمد مجددی  اوجمال پاشاه تر منځ ترسره کیږي او زیاته یې کړه چي پدې هکله د تګاو ملا د خلکو د نظریاتو  ارزونه کوي.(۷)                                                        .

د یوې بلې خبرتیا له مخې، د ۱۹۲۰ کال د نومبر په ۱۹مه نیټه د شوربازار حضرت صاحب (شمس المشایخ) د کابل په ستر جامع جومات کې اعلان وکړ چي «د افغانستان امیر مونږ ته یواځیني راپاتي ځانګړې، خپلواکه، مسلمان واکمن دئ . هغه اوس د اسـلام سـروال دئ او د نړۍ مسـلمانان باید هغه ته د خلیفه د لقب مبارکي ورکړي . مولوی برکت الله  هم حاضرینو ته وینا وکړه، او د دغه وړاندیز یې تائید کړ . (۸)

دهند دلویې وچې مسلمانانو  خو لا غازي امان الله خان د شـافعی مذهب د سـتر امام حضـرت امام فخرالدین رازي (رح) سره مقایسه او په یوه لیکه کې ودرولې دئ :

چو مسلم علم دین ورزید امام فخر رازی شد

ولی چون درعمل کوشید امان الله غازی شد

## د خلافت  د مقام د وړاندیز نه منل

سره لدې چي د افغانستان روحانیونو او د هندوستان د خلافت د غورځنګ مشرانو غوښتل چي د افغانستان پاچا، غازي امان الله خان، د هغوې مشري په لاس کې ونیسي، هغه د نومبر په په ۲۳مه نیټه په دربار کې په ښکاره اعلان وکړ چي د خلافت موضوع په ټولو مسلمانانو پورې اړه لري، او په عمومي توګه د نړۍ ټول مسلمانان باید پدې هکله تصمیم ونیسي. هغه همدا راز زیاته کړه چي د یوه داسـې سـتر مسئولیت په غاړه اخیسـتلو  هیڅ ډول اراده نه لري .  پدې دربار کې جمال پاشا، لوړپوړي ملکي او نظامي چارواکي، برکت الله او عبدالرب [په کابل کې د هندوستان د مؤقت حکومت مشران]  هم حاضر وو. (۹)

سـره لدې چي  غازي امان الله خان په څرګنده د خلافت د مقام وړاندیز رد کړ، انګریزانو بیا هم  د افغانانو سـره د هندوسـتان د نشـنلسـتانو د احتمالي ائتلاف نه ویره درلوده.  د بریتانوي هند حکومت پدې هکله په لندن کې د هند دچارو دپاره خارجه وزیر سره  داخبره شریکه او ټینګار وکړ چي «تر دې زیاد باید د [مسلمانو] د خلیفه په توګه د امیر [امان الله خان] په ټاکل کیدلو  سترګې پټې نکړو. لازمه ده چي د هندوستان دپاره د خلافت مقام ته د هغې د ټاکل کیدو په عواقبو ژور فکر وکړو» (۱۰).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ



غازي امان الله خان په کله د جمعې او اختر د لمونځونو امامت پخپله کوو.
په پورتني عکس کې هغه د بمبئي په جامع جومات کې د جمعې د لمانځه د خطبې نه وروسته دعا کوي.

(پای)

## ماخذ


1. Poullada, L. B. (1973) Reform and Rebellion in Afghanistan، ٤٧ مخ.
2. هاشمی، سید سعدالدین (٢٠٠٤)، نخستین کتاب در باره جنبش مشروطیت خواهی در افغانستان، ص١١٧ (به حوالۀ مولوی برکت الله ، خلافت، لندن ص ٥٨) .
3. هماغه ځاي ، (دآقابکوف په حواله، ٧٥ مخ)
4. د بریتانوي هند د آرشیف محرمانه اسناد، د شمال غربي سرحدي ایالت د استخباراتو د ځانگي د ١٩٢٠ کال د مى د میاشتي د شلمي نیټي د یادداشت د دریمي گڼي ضمیمه .
5. Stewart, Rhea Talley (1973) Fire in Afghanistan، ١٣٦ مخ .
6. د بریتانوي هند د آرشیف محرمانه اسناد، L/P&S/20/B288, P261
7. L/P&S/10/813, PA 743, NO. 50, Dec. 16, 1920 (د بریتانوي هند د آرشیف محرمانه اسناد)
8. د بریتانوي هند د آرشیف محرمانه اسناد، L/P&S/20/B288, P261
9. هماغه ځاي
10. L/P&S/10/813, PA 743, NO. 50, Dec. 16, 1920 (د بریتانوي هند د آرشیف محرمانه اسناد).


---




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ